افغان کرکټ

AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

اووم کال، لومړۍ ګڼه

جنوري- ۲۰۲۰ کال

بـــريـــــا د ټولو هيله

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو او بازار موندنې څانګه
میاشتنۍ مجله
جنوري- ۲۰۲۰



مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي:
ابراهیم مومند، محمد فرید هوتک،
محمد نعمان اشرفي او پرهیز شګیوال

عکس اخیستونکي:
سید حسرت سادات او صدیق الله عابد

ډیزاین: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزیزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لیکلړ

سرمقاله	۱
د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړو کلنۍ غونډه ترسره شوه	۲
افغان ستوري په نړیوال جام کې	۴
افغانستان د کرکټ نړیوالې شوراپه وروستۍ درجه بندۍ کې یوځل بیا له سریلانکا مخکې شو	۱۴
ټېسټ لوبو کې نیم میلیون منډې	۱۶
ایچ دی اکرمن به حیث مربی بخش توپزنی تیم ملی کرکت انتخاب شد	۲۰
ایچ ډي اکرمن به د افغان ملي لوبډلې لپاره د توپوهنې په برخه کې غوره ثابت شي	۲۶
د ۱۹ کلنو نړیوال جام د تاریخ بهترینه توپ اچونې ریکارډ د افغان په نوم شو	۲۸
ځوان لوبغاړي سلیم ساپي سره ځانګړې مرکه	۳۲
د افغانستان کرکټ بورډ اداري د څانګو پېژندنه	۳۶
۱۹ افغان لوبغاړو د متحده عربي اماراتو په روزنیز کمپ کې ګډون وکړ	۴۲
Andy Flower Impressed by the quality of Afghan spinners in U19 World Cup	۴۹

سرمقاله

نوی ۲۰۲۰م کال او د اداري بشپړ چمتووالی

دا یو ښه زېری دی چې باید له خپلو هېوادوالو سره شریک شي چې افغانستان کرکټ بورډ ۲۰۲۰م کال ته له یوه بشپړ پلان او موخو سره ځي، تېر کال کې هم دغې اداري ډېرې لاسته راوړنې درلودې، خو سږ کال به د خدای په فضل سره د تېر په پرتله ډېرې لاسته راوړنې لرو، سږ کال دا دی په جنوري میاشت کې د ۱۹ کلنو کم عمره نړیوال جام هم پیل او افغان لوبغاړي پکې تر اوسه ډېر ښه ځلېدلي، د اسیا جام سیالۍ او همدارنګه د شل اوریزو لوبو نړیوال جام هم هغه موارد دي چې اداره ورته بشپړ پلانونه او چمتووالی لري او هیله ده افغان لوبغاړي پکې ښه وځلیږي.

همدارنګه به افغان لوبډله د روان زېږدیز کال په مارچ میاشت کې د ایرلنډ پر وړاندې درې شل اوریزې لوبې ترسره کړي او سربېره پر دې به له نړیوال جام لوبو وړاندې په نومبر کې د استرالیا پر وړاندې ټېسټ سیالۍ هم ترسره کړي چې دا به هم د افغان لوبډلې لپاره ستر هدفونه وي.

دغه راز د یادونې وړ ده چې اوسمهال ذکر شوو سیالیو ته بشپړ چمتووالی روان دی او د روان کال په ترڅ کې به هم لوبغاړي یو لړ تمریناتي کمپونه ترسره کړي چې په ترڅ کې به یې نړیوالو جامونو ته د چمتووالي په موخه لوبغاړو ته بشپړه روزنه ورکړل شي او د دوی په تخنیکي توپوهنه او توپ اچونه به کار وشي.

اداره

د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړو کلنۍ غونډه ترسره شوه

د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړو کلنۍ غونډه په لومړي ځل د افغانستان کرکټ بورډ په مرکزي دفتر کې د جنورۍ په ۱۱ مه نېټه وشوه، چې د کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي، اجراییوي مشر ښاغلي لطف الله ستانکزي او د بورډ غړیو ښاغلیو او اغلو محمد جواد پېکار، ګلالۍ نور صافي، ضیا الحق امرخېل، فریدون الهام، نوریالي ابراهیمي د الکوزي شرکت د مشر عبدالرحمن الکوزي په استازیتوب او کاملې صدیقي برخه واخیسته.

د غونډې په پیل کې اجراییوي مشر لطف الله ستانکزي د کرکټ بورډ د تېر کال پرېزینټېشن وړاندې کړ، چې پکې د کرکټ بورډ د ۲۰۱۹ کال ټولې چارې په بشپړ ډول ترتیب شوې وې. له پرېزینټېشن وروسته د ۲۰۲۰ کال لپاره د کرکټ بورډ پلان او بودیجه منظوره شوه، همدا راز په ګډه یو لړ پرېکړې وشوې، چې په لاندې ډول دي:

- د بورډ غړو له کرکټ بورډ وغوښتل چې یو اوږد مهاله او ستراټیژیک پلان، تګلاره او لیدلوری باید جوړ شي.
- په یو سوداګریز پلان باید کار وشي، چې د کرکټ بورډ له لوبغالو او اکاډمیو عواید ترلاسه شي، چې په دې برخه کې به محمد جواد پېکار هم له کرکټ بورډ سره همکاري وکړي.
- د فوټبال فدراسیون مخې ته د ملي بس تصدۍ د ځمکې په اړه، چې د کابل نوی نړیوال کرکټ لوبغالی پکې جوړېږي، د کرکټ بورډ غړو له دغه پرېکړې ملاتړ وکړ او وې ویل چې باید یاده ځمکه کرکټ بورډ ته ورکړل شي.
- د بورډ غړو د کرکټ بورډ له مشرتابه وغوښتل، چې د الکوزي شرکت مشر عبدالرحمن سره دې ناسته برابره کړي او د کابل نوي کرکټ لوبغالي لپاره دې ترې بودیجه ترلاسه کړي.
- د کرکټ اړوند ادارو، کلبونو او اکاډمیو د تصدیق لپاره دې پر یو مېکانیزم کار وشي.
- د کرکټ په اړه د افغانستان کرکټ بورډ یوازینۍ منل شوې اداره ده او بل هېڅوک د کرکټ ادارې له اجازې پرته د فعالیت حق نه لري، نو د پرېکړې له مخه د شل اوریزه کرکټ فدراسیون ATCF جواز دې د عدلیې وزارت لغوه کړي.
- د کرکټ بورډ د غړو ناستې به له دې وروسته په میاشت کې یو ځل کېږي.
- د کرکټ بورډ اجراییوې څانګې ته لارښوونه وشوه، چې د افغانستان شل اوریز غوره لیګ لپاره د نوې کمپنۍ د موندلو د تدارکاتي پروسېجر له پیل وړاندې دې د افغانستان غوره لیګ لپاره د نوي Partner پېدا کولو لپاره دې یو TOR برابر او د بورډ غړو په راتلونکې غونډه کې دې وړاندې شي.

افغان ستوري په نړیوال جام کې

له ۱۹ کلنو کم عمره افغان لوبډله د جنوري میاشتې په لومړۍ نېټه د کرکټ نړیوالې شورا د نوولس کلنو لوبډلو په نړیوال جام کې د ګډون په موخه د سویلي افریقا پر لوري وخوځېده. په دغه هېواد کې یې لومړۍ اووه ورځې په هغه تمریناتي او روزنیز کمپ کې ګډون وکړ چې یادو لوبغاړو ته د افغانستان کرکټ بورډ له لوري برابر شوی و، ورپسې یې د کرکټ نړیوالې شورا له لوري په برابر شوي تمریناتي کمپ کې هم ګډون وکړ او په ترخ کې یې د انګلستان او هندوستان لوبډلو پر وړاندې په رسمي تمریناتي لوبو کې هم ګډون وکړ چې په پایله کې یې له انګلستان لوبډلې خپله لوبه وګټله او له هندوستان یې بیا ماتې ومنله.

افغان ستوریو د دغه نړیوال جام خپله لومړۍ لوبه د جنوري میاشتې په ۱۷مه نېټه د کوربه هېواد سویلي افریقا لوبډلې پر وړاندې ترسره کړه چې افغان لوبغاړو د اوو ویکټو په توپیر سیاله لوبډله له ماتې سره مخ کړه چې د افغان توپوهونکو ترځنګ پکې توپ اچوونکي ډېر ښه وځلېدل او له امله یې افغان لوبډله د بریا تر کچې پورې ورسېده. په همدې ورځ د توپ اچوونکو له منځه شفیق الله غفاري ډېره په زړه پورې توپ اچونه وکړه چې د سیالې لوبډلې شپږ لوبغاړي یې له ډګره بهر کړل او د نوموړي سربېره نوراحمد لکنوال او فضل حق هم ښه لوبه وکړه چې د سیالې لوبډلې دوه-دوه لوبغاړي یې له ډګره بهر کړل. د دغې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه تکړه توپ اچونکي شفیق الله غفاري ته ورکړل شوه چې په دغه لوبه کې یې شپږ لوبغاړي سوځولي وو. سویلي افریقا لوبډلې د لومړۍ پاڼۍ په کولو سره افغانستان ته د ۱۳۰ منډو هدف ټاکلی و چې په پایله کې یې افغانستان د دریو ویکټو په سوځېدو په ۲۵ اورونو کې یاد هدف پوره کړ او سیالې لوبډلې ته یې د اوو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه د افغان توپوهونکو له منځه بیا عمران میر او ابراهیم ځدران ډېر ښه وځلېدل او په ترتیب سره یې ۵۷ او ۵۲ منډې ترلاسه کړې او افغان لوبډله یې تر بریا ورسوله. ورپسې افغان ستوریو د نړیوال جام خپله دویمه لوبه د جنوري په ۲۲مه د متحده عربي اماراتو لوبډلې پر وړاندې وکړه چې همدې لوبډلې ته یې هم

د ۱٦۰ منډو په توپیر ماتې ورکړه او خپله دویمه بریا یې هم د افغانستان په نوم ثبت کړه. افغان لوبغاړي یو ځل بیا په دغه ورځ هم ډېر ښه وځلېدل او د خپل ډي ګروپ دویمه بریا یې هم

په ستر توپیر خپله کړه. په دغه ورځ افغان لوبډلې په پوره ۵۰ اورونو کې د شپږو لوبغاړو په سوځېدو سیالې لوبډلې ته د ۲٦٦ منډو هدف وټاکه چې د توپوهونکو له منځه یې ابراهیم

ځدراڼ ۸۷ او رحمن الله ۸۱ منډې وکړې، خو د متحده عربي اماراتو د افغان لوبډلې هدف پوره نه کړای شو او ټوله لوبډله یې له ۱۰۵ منډو ترلاسه کولو وروسته وسوځېده. په دغه ورځ هم افغان توپ اچوونکي ډېر ښه وځلېدل چې له منځه یې شفیق الله غفاري یو ځل بیا ډېره ښه او زړوره توپ اچونه یې وکړه چې د سیالې لوبډلې پنځه لوبغاړي یې له ډګره

بهر کړل او همدارنګه نوراحمد هم درې سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل. دا چې افغان لوبډلې په یاد نړیوال جام کې خپله دریمه لوبه د جنوري په ۲۴مه د کاناډا هېواد پر وړاندې ترسره کوله، خو د دوامداره باران ورښت له امله لوبه ترسره نه شوه او افغانستان په پایله کې د خپل ګروپ د لومړي مقام په ګټلو سره د اتو غوره لوبډلو مقام ته لاره وموندله او دا د

افغانستان لپاره یو ستر ګام و چې د دغه جام په لوبو کې یې د بریا لپاره پورته کړ، خو په دغه لوبه کې یوه نمره افغانستان او یوه نمره هم سیالې کاناډا لوبډلې ته ورکړل شوه. همدارنګه افغانستان بیا د اتو غوره لوبډلو په پړاو کې د نړیوال جام نیمه پایلوبې ته د لارموندنې په موخه خپله څلورمه لوبه د پاکستان لوبډلې پر وړاندې ترسره کړه چې له سیالې لوبډلې یې د شپږو ویکټو په توپیر ماتې وخوړه او ویې

نه کړای شول چې د نړیوال جام نیمه پایلوبې ته لاره پیدا کړي. افغان لوبډلې له سیالې لوبډلې په ۴۹،۱ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۸۹ منډې ترلاسه کړې او د پاکستان له نولس کلنو کم عمره لوبډلې ته یې د ۱۹۰ منډو هدف وټاکه. پاکستان لوبډلې یاد هدف د څلورو لوبغاړو په سوځېدو په ۴۱،۱ اور کې پوره کړه او افغان لوبډله یې د شپږو ویکټو په توپیر له ماتې سره مخ کړه چې له امله یې افغان

لوبډلې د نولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام ته لاره پیدا نه کړه. همدارنګه بیا افغان لوبډله د دغه جام سیالو د پنځم مقام خپلولو په موخه د فبروري په دویمه د استرالیا لوبډلې پر وړاندې ډګر ته ښکته شوه، خو یاده لوبه یې د څلورو ویکټو په توپیر سیالې لوبډلې ته وبایلله چې استرالیا د افغان لوبډلې د ۱۹۲ منډو هدف په ۴۹،۵ اورونو کې بشپړ کړ او پنځم مقام یې خپل کړ. په دغه لوبه کې د افغان توپوهونکو له منځه لوبډلمشر فرهان ذاخېل ۹۱ زیاتې منډې وکړې او د نوموړي د منډو په پایله کې افغان لوبډلې د استرالیا لوبډلې ته د ۱۹۲ منډو هدف ټاکلی و. دغه راز د افغان توپ اچوونکو له منځه هم عبدالرحمن درې او جمشېد بیا دوه سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل، خو استرالیا لوبډلې د تنویر سانګا د ۴۶ ناسوځېدلو منډو په پایله کې وکولی شول، څو د افغان لوبډلې ورکړل شوی هدف په ۴۹،۵ اور کې بشپړ کړی او خپله لوبډله د بریا تر کچې پورې ورسوي.

افغان لوبډلې په دغه ګروپ کې د نړیوال جام خپله وروستۍ لوبه د کوربه سویلي افریقا لوبډلې پر وړاندې ترسره کړه چې په پایله کې یې د سویلي افریقا لوبډلې ته ماتې ورکړه او افغان ستوریو په دې سره د نړیوال جام اووم مقام ترلاسه کړ. په دغه لوبه کې د سویلي افریقا لوبډلې لومړی توپوهنه ترسره کړه چې په ۳۹،۳ اورونو کې یې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو افغان لوبډلې ته د ۱۵۵ منډو هدف وټاکه او افغان توپ اچوونکو اجازه ورنکړه، څو د سیالې لوبډلې توهونکي ډېرې منډې ترلاسه کړي چې په پایله کې د افغان توپ اچوونکو له منځه شفیق الله غفاري یو ځل بیا ښه وځلېده او ۴ ویکټې یې ترلاسه کړې چې پر نوموړي سربېره فضل حق درې او عبدالرحمن دوه سیال لوبغاړي له ډګره بهر کړل. ورپسې افغان لوبډلې توپوهنه پیل کړه چې د سیالې لوبډلې هدف یې په ۴۰،۲ اورونو کې ترلاسه کړ او سیالې لوبډلې ته یې د پنځو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه چې د افغان توپوهونکو له منځه یې ابراهیم ځدراڼ ۷۳ ناسوځېدلې، صدیق الله ۴۰ او عبدالرحمن ۲۷ منډې ترلاسه کړې او سیاله لوبډله یې له ماتې سره مخ کړه.

په دې سره افغان له ۱۹ کلنو کم عمره لوبډله د کرکټ نړیوالې شورا د نوولس کلنو کم عمره لوبډلو په نړیوال جام کې اووم مقام ترلاسه کړ او دغه یوه ستره بریا وه. افغان لوبغاړي په دغو سیالیو کې ډېر ښه وځلېدل، د کرکټ ډېرو مبصرینو او شنونکو د افغان لوبغاړو د انرژي او تکړښت ډېره ستاینه وکړه او ډېر کسان ترې متاثره وو.

نوي ځوانان د ملي لوبډلې ځای ناستي او تکیه ده چې باید له همدې ځوانانو د راتلونکي لپاره ډېر پیاوړي کسان غوره شي او بیا ملي لوبډلې ته راشي او دغه مهال به لېرې نه وي چې افغان لوبډله به ډېره ځوانه شي او د کرکټ ټولو ښه کې به ډېره ښه پیاوړې لوبډله ولرو. همدارنګه باید یادونه وشي اوسمهال

زموږ ملي لوبډلې ته هم ډېرې ځوانان لوبغاړو لاره موندلې ده چې له منځه یې د ابراهیم ځدراڼ، اکرام علي خېل، رحمن الله ګربز، مجیب الرحمن، راشدخان، نوین الحق، ظهیرخان، قیس احمد، وفادار مومند، کریم جنت او عظمت الله عمرزی او نورو لوبغاړو نومونه یادولی شو. افغان لوبډله ډېره پیاوړې او ځوانه شوې چې د وخت په تېرېدو سره به نوره هم لا ډېره پیاوړې او ځوانه شي چې د اوسني ۱۹ کلنو لوبډلې به

هم ځینې لوبغاړي په تدریجي ډول ملي لوبډلې ته لاره مومي او په پایله کې به یې پیاوړې افغان لوبډله غوره کېږي او د افغانستان نوم به ځلوي. افغان لوبغاړو په هره ښه کې افغانستان ته ډېرې بریاوې راوړې او دا دی ځوان لوبغاړو یو ځل بیا وښوده چې له ډېرې انرژۍ او پیاوړتیا برخمن دي او د افغانستان بیراغ د نړۍ پر ډګرونو رپولی شي.

NWU
NWU
AFGHANISTAN

افغانستان د کرکټ نړیوالې شورا په وروستۍ درجه بندۍ کې یو ځل بیا له سریلانکا مخکې شو

د افغانستان ملي لوبډله د کرکټ نړیوالې شورا د شل اوریزو لوبو په وروستۍ درجه بندۍ کې له سریلانکا یو ځل بیا مخکې او له ۸م مقام څخه ۷م مقام ته وړاندې شوه چې دا د افغان لوبډلې لپاره یوه ډېره لویه او ستره لاسته راوړنه ده، ځکه افغان لوبډله به په روان کال کې د اسیا جام سیالۍ او نړیوال جام شل اوریزې سیالۍ لري نو دا به د افغان لوبډلې لپاره یو ښه زېری وي چې له اتم مقام څخه اووم مقام ته پرمختګ کوي او د پرمختګ یو بل ګام هم اوچتوي. افغانستان او سریلانکا دواړه لوبډلې په شل اوریزو لوبو کې ٢٣٦-٢٣٦ نومرې لري چې افغانستان په ٢٣ لوبو او سریلانکا په ٢٩ لوبو کې ترلاسه کړې دي نو پر همدې بنسټ ده چې افغان لوبډلې له سریلانکا لوبډلې مخکې شوې او اووم مقام یې ترلاسه کړی دی. د یادولو ده چې افغان لوبډله به د روان ٢٠٢٠ کال په سپټمبر میاشت کې د اسیا جام سیالیو او وروسته به بیا په اکټوبر میاشت کې د نړیوالې شورا د شل اوریزو سیالیو په نړیوال جام کې چې په اسټرالیا هېواد کې ترسره کېږي؛ ګډون وکړي.

ټېسټ لوبو کې ۵۰۰۰۰ منډې

د کرکټ لوبه ډېر پخوانی تاریخ لري، خو په لومړي ځل چې کله په رسمي ډول نړیواله لوبه ترسره شوې ده، له هغې هم ۱۴۳ کاله تېرېږي، چې دغه لوبه د انگلستان او استرالیا لوبډلو ترمنځ په ۱۸۷۷ کال کې ترسره شوې وه.

تر ډېرې مودې پورې یوازې ټېسټ سیالۍ ترسره کېدې، چې یو مهال ان ٦ ورځې سیالۍ هم وې، خو ډېر وروسته بیا پنځوس اوریزې او له هغه راوروسته بیا شل اوریزې سیالۍ هم پیل شوې، خو ټېسټ لوبې لا هم په هماغه ډول ترسره کېږي او د کرکټ تر ټولو اوږد فارمېټ تر څنگ بیا د حوصلې او تخنیک لوبې هم دي.

که څه هم د ۲۱م پېړۍ له پیل سره کرکټ لوبه ډېره چټکه شوه او همدا راز پېسې هم پکې ډېرې شوې، ځکه د ۲۱مې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې تجارتي لیگونه پیل شو او د ارزښتونو تر څنگ کرکټ د پېسو لوبه هم شوه.

په تېرو ۱۴۳ کلونو کې تر ټولو زیاتې ټېسټ سیالۍ هم بیا د انگلستان لوبډلې ترسره کړې دي، ځکه د دوی سیالۍ تر زرو اوښتې دي او ان استرالیا هم چې له انگلستان سره یې په یوه ورځ ټېسټ لوبې پیل کړې دي، سیالۍ یې زرو ته نه دي رسېدلې او نه هم د انگلستان هومره منډې لري.

انگلستان دا ویاړ ترلاسه کړ، چې په ټېسټ لوبو کې یې نه یوازې تر زرو زیاتې منډې تر نورو مخکې پوره کړې دي، بلکې نیم میلیون یا ۵۰۰ زره منډې یې هم تر نورو ژر پوره کړې دي.

انگلستان چې تر دې مهاله پورې یې ۱۰۲۲ ټېسټ لوبې ترسره کړې دي، منډې یې تر پنځه سوه زره یا هم نیم میلیون نه واوښتې، چې تر هغه وروسته استرالیا لوبډله ده، خو د استرالیا لوبډلې ته د دغه

هدف ته رسېدو لپاره لا هم ډېره لاره پرته ده.

اوس چې د کرکټ نړيوالې شورا سره د ټېسټ لوبو غړيتوب لرونکو کې ۱۲ لوبډلې بشپړ غړيتوب لري، راځئ چې وګورو کومې لوبډلې په کوم وخت کې ټېسټ لوبې پیل کړې دي.

د انګلستان او استراليا له لومړۍ لوبې ۱۲ کاله وروسته سویلي افريقا د دریمې لوبډلې په توګه په ټېسټ سيالیو کې راڅرګنده شوه.

سویلي افريقا خپله لومړۍ لوبه د ۱۸۸۹ کال د مارچ په ۱۲مه نېټه د انګلستان پر وړاندې ترسره کړه.

ويسټ انډيز بيا څلورمه لوبه وه چې ډېر وخت وروسته ټېسټ سياليو ته راغله او په ۱۹۲۸ کال کې يې ټېسټ لوبې پيل کړې. ورپسې په ۱۹۳۰ کې د نيوزيلنډ، ۱۹۳۲ کې هند، ۱۹۵۲ کې پاکستان، ۱۹۸۲ کې سريلانکا او ۱۹۹۲ کې زمبابوې د ټېسټ سياليو غړيتوب ترلاسه کړ.

درې لوبډلې چې په ۲۱مه پېړۍ کې يې بشپړ غړيتوب يا د ټېسټ سياليو غړيتوب ترلاسه کړ، په هغې

کې بنګله دېش لوبډله ده چې په ۲۰۰۰ کال کې يې ټېسټ لوبې پيل کړې او افغانستان او ايرلنډ بيا په ۲۰۱۸ کال کې د ټېسټ لوبو غړيتوب واخيست.

اوس که د زياتو منډو خبره وکړو، نو تر انګلستان وروسته بيا استراليا دويمه لوبډله ده چې ډېرې لوبې يې هم ترسره کړې دي او ډېرې منډې يې هم ترلاسه کړې دي.

استراليا په ۸۳۰ لوبو کې ۴۳۲۷۰۶ منډې ترلاسه کړې دي، هند بيا په ۵۴۰ لوبو کې ۲۷۳۵۱۸ منډې ترلاسه کړې، ويسټ انډيز بيا په ۵۴۵ لوبو کې ۲۷۰۴۴۱ منډې ترلاسه کړې، سويلي افريقا په ۴۳۹ لوبو کې ۲۱۶۴۵۲ منډې ترلاسه کړې، پاکستان په ۴۲۷ سياليو کې ۲۰۹۸۶۹ منډې ترلاسه کړې، نيوزيلنډ په ۴۴۰ لوبو کې ۲۰۴۱۷۲ منډې ترلاسه کړې، سريلانکا په ۲۸۸ لوبو کې ۱۴۵۲۱۸ منډې، بنګله دېش په ۱۱۷ لوبو کې ۵۳۱۱۵ منډې، زمبابوې په ۱۰۸ لوبو کې ۴۹۸۶۹ منډې، افغانستان په ٤ لوبو کې ۱۵۸٤ منډې او ايرلنډ په ۳ لوبو کې ۱۱۷٤ منډې ترلاسه کړې دي.

ایچ دی اکرمن به حیث مربی بخش توپزنی تیم ملی کرکت تعین شد

هیلتن دین اکرمن ۴۶ ساله، توپزن سابق و موفق تیم آفریقای جنوبی، به حیث مربی بخش توپزنی تیم ملی کرکت تعین شد.

موصوف در دهه ۹۰م در چهار رقابت تیست نیز مقابل تیمهای سریلانکا و پاکستان به نفع تیم آفریقای جنوبی بازی نموده است و تا سال ۲۰۰۹ م در مسابقات کاونتی انگلستان نیز رقابتها انجام داده است.

اکرمن در ۵۰۹ بازی کرکت به شمول ۴۴ صد دوشه، به نفع تیم اش بیش از ۲۰ هزار دوش انجام داده است و در کرکت مسلکی، یکی از چهره های مشهور میباشد.

موصوف در کرکت داخلی آفریقای جنوبی نیز به حیث سرمربی و مربی بخش توپزنی تیمهای ملی الف و ایمرجینگ این کشور و همچنان به حیث سرمربی تیم ملی کرکت نامیبیا ایفای وظیفه نموده است.

اکرمن در سال ۲۰۰۵م به اساس یک قرارداد از آفریقای جنوبی به کشور انگلستان رفت و در آنجا به حیث کپتان کاونتی کرکت لیسترشایر تعین گردید.

محترم فرهان یوسفزی رییس عمومی کرکت بورد افغانستان در این مورد اظهار خوشی کرده گفت : ((اکرمن در کرکت تخنیکی یکی از چهره های سرشناس و مشهور میباشد و این کار برای کرکت افغانستان یک نتیجه مثبت خواهد داشت و آرزو دارم تا بازیکنان افغان از تجارب وی استفاده اعظمی نماید.))

محترم یوسفزی همچنان گفت، اینکه در سال جاری میلادی تیم افغانستان در مسابقات جام اسیا و جام بیست آوره بین المللی با تیمهای کشورهای دیگر مواجه میشود، پس تیم کشور باید به این مسابقات آماده گی کامل داشته باشد، به همین اساس است که تمرکز زیاد ما بالای آمادگی کامل برای مسابقات آینده میباشد.

لطف الله ستانکزی رییس اجراییه کرکت بورد افغانستان در این مورد گفت: ((جای خوشی است که اکرمن وظیفه اش را به حیث مربی بخش توپزنی تیم ملی کرکت، با اداره کرکت بورد افغانستان آغاز کرد، بخاطریکه موصوف در کرکت بخصوص آموزش بازیکنان تجربه خاص دارد و مطمین هستم همه مشکلات و کاستی های که حالا در بخش توپزنی تیم ملی وجود دارد، با آمدن وی رفع و حل خواهد شد.))

قابل یادآوری است که اکرمن در کشور استرالیا نیز تجربه آموزش بازیکنان را دارد، به همین اساس امید است که موصوف در بخش آماده گی کامل بازیکنان افغان برای مسابقات جام جهانی ۲۰ آوره خوب ثابت شود و نتیجه مثبت داشته باشد.

Afghanistan Team Fixtures for 2020

National

January	U19 ODI World Cup
March	Afghanistan vs Ireland 3 T20I
May - June	Afghanistan-A vs Sri Lanka-A
September	Asia Cup T201
Sept - Oct	Afghanistan-A vs Bangladesh-A
October	ICC T20I World Cup
November	Afghanistan vs Australia only Test
November	U19 Asia Cup
December	Emerging Asia Cup

Domestic

February	Provincial Challenge Cup Grade III Provincial Challenge Cup Grade II
March	Sayed Jamaluddin Afghan Elite Cup
April	Regionla U-16
June July	Ahmad Shah Abdali First Class Preparation Camp Ahmad Shah Abdali First Class Tournament
August	Shpageeza Cricket League (SCL) Regional Disabled
September	Regional U19
November	Firstl Class and List A Top Performers Tournament Regional Club Championship
December	Afghanistan Premier League (APL)

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service | IT Hospital | Malomaat 411 | RANA BPO

For more information call
0798 85 85 85

RANA رانا TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan
www.ranatech.com info@ranatech.com

ایچ ډي اکرمن به د افغان ملي لوبډلې لپاره د توپوهنې په برخه کې غوره ثابت شي

د سویلي افریقا دغه پخوانی توپوهونکی له یوې ورزشي کورنۍ سره تړاو لري چې پلار یې هم د همدې هېواد د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړی تېر شوی دی.

ایچ ډي اکرمن هم له نږدې درې لسیزو راپدېخوا په کرکټ لوبه کې بوخت دی چې د لوبو ترخنګ یې په روزنه او له رسنیو سره د کرکټ د څېړونکي یا مبصر په توګه هم دندې ترسره کړې دي او ډېر غوره روزونکی دی.

ایچ ډي اکرمن د کرکټ او سویلي افریقا د تاریخ یو غوره لوبغاړی هاشم املا هم روزلی چې د توپوهنې په برخه کې له ډېر غوره تخنیک او استعداد څخه برخمن دی او په ټاکنه کې یې مشر روزونکي لانس کلوزنر هم مهم رول درلوده.

د یوه روزونکي لپاره به دا اړینه نه وي، څو د اړوند لوبډلې لوبغاړی دې واوسي او یا هم په دې برخه کې د لوبو او روزنې ډېره تجربه ولري.

د کرکټ لوبې په تاریخ کې داسې ډېر روزونکي تېر شوي چې له لوبډلو سره یې نړیوالې کارنامې ثبت کړې، چې حتی څینې یې د کرکټ لوبې لوبغاړي نه وو او یا یې هم د رزرنې پخوانۍ تجربې نه لرلې.

د دوی له منځه یې د استرالیا پخوانی روزونکی جان بچنن وو چې په روزنه کې یې استرالیا په نړیوال کرکټ کې په پرله پسې ډول ۱۰ کاله پاچاهي وکړه، خو هغه په خپل عمر کې یوه کورنۍ او نړیواله کرکټ سیالۍ هم نه وه ترسره کړې.

د سویلي افریقا پخوانی روزونکی میکي ارتر چې د کرکټ په خپل تاریخ کې یې نړیوال کرکټ نه و کړی، د سویلي افریقا د کرکټ تاریخ له بریالیو روزونکو څخه شمېرل کېږي.

همدارنګه د نیوزیلېنډ کرکټ ملي لوبډلې اوسنی او د مایک هیسن په ګډون یو شمېر پخوانیو روزونکو هم نړیوال کرکټ نه وو کړی، خو نیوزیلېنډ د کرکټ په ډګر کې همیشه د بهترینه او غوره لوبډلو په کتار کې ولاړ وي او د خپلې کارکردګۍ ترخنګ یې د کرکټ نړۍ ډېر غوره توپ اچوونکي او توپوهونکي نړیوال کرکټ ته وړاندې کړي دي.

دغه راز استرالیا، انګلستان، نیوزیلېنډ او سویلي افریقا وخت ناوخته د کرکټ ملي لوبډلو لپاره د توپ نیولو داسې روزونکي ګمارلي چې د کرکټ لوبې په تړاو یې تجربه نه درلوده.

د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د توپوهنې نوی ګمارل شوی روزونکی ایچ ډي اکرمن د سویلي افریقا، استرالیا او انګلستان هېوادونو کې د لوبډو او روزنې سربېره د کرکټ لوبې بې ساري تجربه او پوهه لري او هم یې د ۴ ټیسټ لوبو ترخنګ په فرسټ کلاس سیالیو کې څه باندې ۱۲ زره منډې هم ترلاسه کړې چې د افغانستان کرکټ بورډ له خوا یې ټاکنه یو غوره ګام دی او هیله کېږي افغان کرکټ بورډ به ترې د لوبغاړو په ښه روزلو کې ډېره ګټه واخلي او همدارنګه به نوموړی راتلونکي نړیوال جام ته د لوبغاړو د غوره او تخنیکي توپوهنې په برخه کې هم غوره رول ولوبوي.

د ۱۹ کلنو نړیوال جام د تاریخ بهترینه توپ اچوني ریکارډ د افغان په نوم شو

شفیق الله غفاري د ۱۹ کلنو کرکټ نړیوال جام په ۱۳ کلن تاریخ کې داسې یوه کارنامه وکړه چې تر اوسه د هند، پاکستان، اسټرالیا او انګلستان لوبغاړو په ګډون کومې بلې لوبډلې دغه ریکارډ په خپل نوم نه و کړی.

افغان لیګ سپېنر ۱۸ کلن غفاري د سویلي افریقا په کوربه توب د دې جام په ۱۳ پړاونو کې لومړی توپ اچونکی شو چې په پرلپسې ډو یې په دوه لوبو کې ۵ یا له دې زیاتې ویکټې ترلاسه کړې دي.

شفیق الله غفاري د ۱۹ کلنو نړیوال جام په لومړۍ لوبه کې چې د کوربه سویلي افریقا

پر وړاندې ترسره شوه، په لړ کې یې د
دغې لوبډلې ٦ لوبغاړي وسوځول او بیا
یې په خپله دویمه لوبه کې د متحده عربي
اماراتو ۵ لوبغاړي وسوځول او دواړه سیالۍ
یی په لوی توپیر افغانستان ته وګټلې.
نوموړی دغه راز د پاکستان انور علي،
ریاض افریدي او ایرلېنډ ګریک ټامسن
وروسته څلورم توپ اچونکی شو چې د
۱۹ کلنو په نړیوال جام کې یې دوه ځلې
۵ یا له دې زیات لوبغاړي وسوځول.
انورعلي او ریاض افریدي په ۲۰۰۴
او ۲۰۰٦ کلونو نړیوال جامونو، خو
ګریک ټامسن په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۸
کلونو ۱۹ کلنو کرکټ نړیوال جامونو
کې پنځه پنځه لوبغاړي سوځولي وو.
دغه راز افغان ۱۹ کلنې کرکټ ملي
لوبډلې د شفیق الله غفاري د غوره توپ
اچونې پر مټ د سویلي افریقا ۱۹ کلنې
لوبډلې پر وړاندې د کرکټ تاریخ لومړۍ
بریا هم ترلاسه کړه چې د ۲۰۱۴ کال
د نولس کلنو کرکټ نړیوال جام لوبه
کې او تېر کال یې هم په هند کې په
۹ او ۵۵ منډو سویلي افریقا ۱۹ کلنې
کرکټ ملي لوبډلې ته ماتې خوړلې وې.
شفیق الله غفاري د نړیوالو ترڅنګ
د خپل افغان لوبغاړي افتاب عالم د
۲۰۱۰ کال د ۵ ویکټو ریکارډ هم په
خپل نوم کړ چې د ۱۹ کلنو نړیوال جام
په تاریخ کې یی د ۱۵ منډو په بدل
کې زیاتې ٦ وېکټې ترلاسه کړې وې.
دا به لومړی ځل و چې د سویلي
افریقا ۱۹ کلنه کرکټ ملي لوبډله
بیا په خپل کرکټ تاریخ کې یوه توپ
اچونکي ته دومره زیاتې ٦ وېکټې په
کمو ۱۵ منډو کې ورکوي چې په دې
سره شفیق الله غفاري د سویلي افریقا
۱۹ کلنې لوبډلې پر وړاندې د غوره
توپ اچونې ریکارډ له سریلانکایي
بانوکا راجاپاسکا څخه په خپل نوم کړ.
شفیق الله غفاري په دوه لوبو کې د
۱۱ لوبغاړو په سوځولو سره نه یوازې
افغانستان ته سترې بریاوې خپلې

کړې، بلکې په دواړو لوبو کې یې
د غوره لوبغاړي جایزې هم وګټلې.
شفیق الله غفاري د غوره لیګ
سپېن توپ اچونې سره سره په
توپوهنه کې هم ښه وړتیا لري چې
د تېرکال په شپږیزه کې یې د مس
عینک لوبډلې په اتلولۍ کې هم
مهمه رول ولوباوه، خو تر اوسه ورته
په روان ۱۹ کلنو نړیوال جام کې د
توپوهنې موقع نه ده برابره شوې.

سلیم ساپي

سره مرکه

سلیم ساپي د اقتصادي ستونزو له امله یو ځل کرکټ سره مخه ښه وکړه خو له دغې لوبې سره د نوموړي مینې او جذبې هغه بیرته دغه ډګر ته راوګرځاوه او وېې کړای شول چې په کورني کرکټ کې ښه وځلیږي او له هغې وروسته د ملي لوبډلې د لوبغاړو په تازه تمریناتي کمپ کې چې د متحده عربي اماراتو په دوبۍ کې ترسره شوه؛ ځای ورکړل شو.

دا ځل مو د افغان کرکټ مجلې لپاره

له دغه ځوان چټک توپ اچونکي سره په زړه پورې ځانګړې مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه: که لومړی خپلو هېوادوالو ته ځان وروپېژنئ؟

ځواب: نوم مې سلیم ساپی دی، د بغلان ولایت اصلي اوسېدونکی یم، اوس په کابل کې ژوند کوم او د کرکټ لوبې چټک توپ اچونکی لوبغاړی یم.

پوښتنه: کرکټ دې کله او څنګه پیل کړ؟

ځواب: کرکټ مې د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې په بغلان کې پیل کړ، شا وخوا یو کال مې لوبه وکړه، خو د اقتصادي ستونزو له امله مې پرېښوده. د ورور او ملګرو په هڅونه مې دا لوبه یو ځل بیا پیل کړه او په کورني کرکټ کې راته ځای راکړل شو او په هغې کې په بېلابېلو بڼو کې الحمدلله ډېر ښه وځلېدم او له هغې وروسته کرکټ بورډ اداري راته په ملي لوبډلي کې د متحده عربي اماراتو په تمریناتي کمپ کې ځای هم راکړ.

پوښتنه: له کومې کچې دې کرکټ پیل کړ؟

ځواب: د کلبونو له کچې مې پیل کړ.

پوښتنه: د کلبونو ترڅنګ بل کوم ښه فرصت دې په لاس درغی چې تر دې ځایه راورسېدې؟

ځواب: ما کرکټ لوبې ته پوره پام کړی او له هر فرصته مې مثبته ګټه اخیستې، خو د چټکو توپ اچوونکو په لټه کې پروګرام کې ماته ښه فرصت برابر شو، زه په هغه برخه کې په دریو غوره توپ اچوونکو کې راغلم او

الحمدالله تر دې ځایه راورسېدم.
پوښتنه: ستا کوم توپ ډېر خطر ناک دی او ستا ډېر خوښیږي؟
ځواب: یارکر او ګوګلاین توپ مې خپله خوښ دی او ډېرې وخت یې پایله هم ښه وي.
پوښتنه: څومره خوښ یاست چې د کورني کرکټ څخه د ملي لوبډلې تر تمریناتي کمپ پورې ورسېدې؟
ځواب: ډېر زیات خوښ یم ما کله هم دا فکر نه و کړی چې د خپلو ملي اتلانو سره به په یو سفر کې اوسم.
پوښتنه: سلیم ساپی تاسو یوازې په کورني کرکټ کچه لوبډلي یاست، د ملي لوبډلې لوبغاړو سره درته دغه سفر څومره ګټور و.
ځواب: زما لپاره د تمریناتي کمپ په دغه سفر کې د ملي لوبغاړو سره هرڅه نوي و، څکه د کورني کرکټ او ملي لوبغاړو سره تمریناتي چاپېریال کې ډېر بدلونونه وو، هلته مې له ملي لوبغاړو او بهرنیو روزونکو ډیر څه زده کړل او هر یو به هلته ماته ډېره مینه راکوله او زه یې هڅولم.
پوښتنه: د پخوا په پرتله دې په تمریناتو کې څومره تغیرات راوستي دي؟
ځواب: پخوا به مې د ورځې په لړ کې یو نیم ساعت تمرین کاوه، خو اوس چې راته هیله پیدا شوې نو ډېر او سخت تمرین کوم.
پوښتنه: د ملي لوبډلې په تمریناتي کمپ کې دې کوم ټکي ته پام شو، چې باید ډېر کار پرې وکړې؟
ځواب: زه باید په خپله هره برخه اوس ډېر کار وکړم، په ځانګړې توګه په خپل فیټنس او لاین باندې ډېر کار راته په کار دی.
پوښتنه: د راتلونکې لپاره کوم پلانونه لرې؟
ځواب: ډېر ښه پلانونه لرم او غواړم چې ښه پرمختګ وکړم، ترڅو د خپل هېواد

ستوری واوسم.
پوښتنه: هغو دوستانو ته چې تاته د کرکټ لوبې کولو پر ځای د کار کولو مشوره درکوله، اوس مو چې د ملي لوبغاړو په تمریناتي کمپ کې سفر وکړ، د هغوی احساس څه ډول دی؟
ځواب: هغوی به ماته د مجبورۍ له امله د کار کولو مشوره راکوله اوس راته هغوی هم ډېر خوښ دي او زما ښې راتلونکې ته یې هیلې ډېرې شوې دي.
پوښتنه: ځنګه دې وکړای شول چې په کورني کرکټ کې دومره ښه وځلېدلې؟
ځواب: ماته به دا فکر را پیدا کېده چې کار نه کوي او اقتصادي ستونزې دي هم زیاتې دي او دا لوبه کوي، ما همدا فکر کولو چې باید پکې تر حده ځان ورسوم.
پوښتنه: څومره زده کړې دې کړې دي؟
ځواب: تر دولسم ټولګي مې زده کړې کړې دي.

پوښتنه: له څه شي کرکه لرې؟
ځواب: له دروغو کرکه لرم.

پوښتنه: په افغانستان کې دې کوم ولایت ډېر خوښ دی؟
ځواب: پنجشیر
پوښتنه: د خوښې لوبغاړي دې څوک دی؟
ځواب: حمید حسن او دولت ځدران.
پوښتنه: کله هم د لوبې په جریان کې غوسه کېږې؟
ځواب: هو چې کله توپ اچونه کوم او مبس فلډینګ وشي.
پوښتنه: څه ډول ژوند دې خوښ دی؟
ځواب: ساده، کلیوالي او ارامه ژوند مې ډېر خوښ دی.
پوښتنه: ځوانانو ته څه پیغام لرې؟
ځواب: ځوانان دې زده کړې او ورزش وکړي.

افغانستان کرکټ بورډ اداري د
ځانګو پېژندنه

مالي ځانګه:

دا ځل د افغانستان کرکټ بورډ د ځانګو د پېژندنې په برخه کې د دغې اداري مالي ځانګه درپېژنو، دوی کوم کارونه ترسره کوي، ورځنۍ چارې یې څه دي؟، تر اوسه پورې په خپل ډګر کې څومره لاسته راوړنې لري، له تاسو سره یې په لاندې څو ټکو کې شریکوو.

د دغې ځانګې د مدیر روښان ساپي په ګډون په یاده ځانګه کې د یوه زده کړیال سرببره شپږ کارمندان کار کوي چې له منځه یې دوه کارمندان د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري چې دوی له دې وړاندې په نورو ادارو کې هم ډېره غوره تجربه درلوده او په خپله برخه کې ډېر په کار پوه کسان دي.

د دغې ادارې اساسي او مهمې چارې:

- د کرکټ له نړیوالې شورا سره د مالي راپورونو شریکول او نور هغه ټول مالي حسابونه او چارې چې د کرکټ نړیوالې شورا اړوند وي، په خپلو ډګرونو کې مالي راپورونه ورسره شریکوي.
- د کرکټ اسیایي شورا سره د مالي راپورونو شریکول، البته باید وویل شي هغه ټولې لوبې او فعالیتونه چې د اسیا په کچه ترسره کېږي نو یادې اداري سره یې راپورونه شریکوي.
- د ادارې په داخل کې د ټولو مالیاتي چارو تنظیم او کنټرول، همدارنګه هغه چارې چې د ادارې په مالي ځانګه پورې تړلې وي، دوی یې په اړه څېړنه کوي او کنټرولوي یې.
- د داخلي تفتیش سرببره د ټولو مالي چارو څېړنه، که څه هم په دغه برخه کې د داخلي تفتیش ځانګه شته او همدارنګه د کال په وروستو کې هم د منل شوو تفتیش ادارو له لوري د ټولو مالي چارو څېړنه او ارزونه کېږي، چې دوی ورته اسانتیا برابروي، څو په ډاګه شي چې ټولې چارې په بشپړه روڼتیا او ښه توګه ترسره کېږي.
- په ټولو چارو کې د روڼتیا او شفافیت رامنځته کول، ټول هغه مالي اړوند کارونه او چارې چې په دغه اداره کې ترسره کېږي نو مالي ځانګه له ځانه سره ثبتوي.
- په ارشیف او راجسټر کې د ټولو مالي سندونو ثبت او ریکارډ، ټول هغه لګښتونه او مصارف چې کېږي نو د هغو اړوند ټول اسناد په ارشیف او راجسټر کې ثبتیږي ترڅو د ټولو وسایلو لګښتونه په ارشیف کې پاتې شي او بیا که هرکله ورته اړتیا لیدل کېږي نو باید موجود وي.
- د تفتیش لپاره د ټولو فورمونو جوړول او له هغو بنسټونو او ادارو سره همکاري کول چې د داخلي او بهرني تفتیش په برخه کې څېړنه کوي.

ورځني کارونه:

- هغه ټول مواد او وسایل چې د ورځې په جریان کې پېرل کېږي، د هغوی د پیسو تادیه کول او ورکړه.
- د ورځنیو سندونو او بلونو جوړول.
- د معاشونو ورکول.
- د لوبغاړو د کمپونو او سیالیو پر مهال د بانک له لارې د ټولو مالي حسابونو ورکړه چې دغه کار ټول د بانکونو له لارې ترسره کېږي او په ډېر روڼ ډول ترې څارنه کوي.
- د ټولو قراردادونو ارزونه او تفتیش چې ایا کومه نیمګړتیاوې خو به نه لري، که چېرې پکې کومه ستونزه وي نو اصلاح کوي یې او بیا یې بیرته له اړوند ځانګې سره شریکوي.
- همدارنګه د هغو نورو بېلابېلو مالي راپورونو چمتو کول چې اړتیا ورته لېدل کېږي او اداري د ورځنیو چارو په ډګر کې اړین وي.
- د قرطاسیه، سون توکو، خوراکي اړتیاو او نورو موادو د پېر لپاره د پیسو ورکړه چې د نورو ځانګو له لوري ورته پیشنهاد کېږي.
- له معاشونو او نورو مالي حسابونو یا پرداختونو د مالیې ګرځول او وضع کول چې د میاشتې په پای کې دولت ته ورکول کېږي او بیا یې راپور هم د هرې میاشتې په پای کې د متوسطه یا منځنۍ مالیه ورکوونکو ریاست ته ورکول کېږي.
- IAS, IFRS او GAAP ټولې مالي چارې او راپورونه د ذکر شوو نړیوالو سټنډرډونو په چوکاټ کې جوړېږي یا پر مخ وړل کېږي.

د اصلاحاتو او روڼتیا رامنځته کول:

- په مالي پالیسي کې بدلون رامنځته شوی، پخوا به د عاجلې اړتیا پر مهال تر ۵۰ زرو افغانیو پورې نغدې پیسې اخیستل کېدلې شوې، خو اوس دغه اندازه ۱۰ زره افغانیو ته راښکته شوې، له همدې اندازې پورته مقدار بیا د بانک له لارې باید ترلاسه شي او دغه کار د روڼتیا په برخه کې یو غوره گام دی چې باید د اوسني عصري سیستم پر بنسټ ټول مالي حسابونه د بانک له لارې ترسره شي چې بیا په ډېره ښه توگه کنټرول کېدلی شي.

- د داخلي او بهرني تفتیش لپاره د معتبرو کمپنیو استخدام څو د دغې ادارې ټول مالي حسابونه او پلټنې بشپړې کړي او بیا یې بشپړ راپور سره د یوه معتبر سند بیرته له ادارې سره شریک کړي چې دغه هم د اداري روڼتیا په ډگر کې یو غوره گام دی، ځکه یاد بنسټونه د پلټنې له نړیوالو بنسټونو اعتبارلیکونه لري او هغوی ته هم ډېر معتبر وي.

دغه راز باید وویل شي چې د افغانستان کرکټ بورډ اداره اوسمهال د خپلو چارو د تنظیم او راکړې ورکړې لپاره د راجسټر شوي کویک بوک (QuickBooks) ګټه پورته کوي چې روڼ او شفاف پروگرام دی او دغه راز هڅه کوي چې د سپورټي اداري په توگه د دغه پروگرام پر ځای د اس اې پي (SAP) بنې څخه گټه واخلي چې د استرالیا کرکټ بورډ هم ترې گټه پورته کوي، ځکه ښېگڼه یې دا ده چې ټولې څانگې له یوه بل سره په اړیکه کې وي او د دوی ترمنځ نږدې اړیکه جوړوي، او ټول اسناد د همدې سیستم پر بنسټ مخ ته وړل کېږي او ټول اسناد او معلومات پکې ثبت کېږي او کولی شو چې په ټوله اداره کې ترې گټه پورته کړو.

- همدارنگه د دغې ادارې د یوه بل غوره گام یادونه هم باید وشي، هغه دا دی چې سږ کال یې د راتلونکو څلورو کلونو لپاره چې له (۲۰۲۰-۲۰۲۳) پورې دی، د بودیجې پلان جوړ شوی او دغه یو ستر گام دی چې پر بنسټ یې هرې څانگې او ډیپارټمنټ ته بودیجه ځانگړې کېږي او هر څه پکې روښانه وي. دغه راز ټول هغه موارد چې تر ۲۵۰ زره تر یو ملیون افغانیو پورې پرې لگښت کېږي نو د مالي څانگې له لوري د داطلبۍ له لارې دغه چاره ترسره کېږي او بیا د افغانستان کرکټ بورډ د ویب پاڼې له لارې اعلان ته وړاندې کېږي، په پایله کې

چې هر شرکت پر شرایطو برابر وي نو هغوی ته قرارداد ورکول کېږي.

د دغې ښاغلې شعار:

د دغې ښاغلې شعار، په افغانستان کرکټ بورډ کې د لا ډېرې روڼتیا او شفافیت رامنځته کول دي، د درغلیو، اداري فساد او بډو یا رشوت پر وړاندې هیڅ زغم او صبر نه کوي او پر ضد یې چټک گامونه پورته کوي او خپلو هېوادوالو ته حتی د هرې افغانۍ ځواب ویونکې دي.

مالي تکیه او اړخ:

اداره د ۲۰۲۰ کال له مالي اړخه بشپړ ثبات لري او په دغه کال کې به د بودیجې له کسر سره مخ نه شي، سږ کال مالي وضعیت ښه دی، چې دغه چاره یو څه په ملي لوبډلې پورې هم تړاو لري چې زموږ لوبډله څومره ښه ځلیږي نو هغومره مالیه د کرکټ نړیوالې شورا له لوري ورکول کېږي چې له ۶۰-۵۰ سلنه بودیجه د کرکټ نړیوالې شورا له لوري افغانستان کرکټ بورډ ته ورکول کېږي، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هم د بودیجې په پنځلس سلنه برخه کې مرسته کوي او د رغونیزو چارو او لوبغالو په جوړولو کې هم رغنده او مهم رول لري چې د لوبغالو ډېرې پروژې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له لوري پرمخ وړل کېږي. سربېره پر دې د کرکټ اسیایي شورا هم د بودیجې د لس سلنې مرسته کوي او دغه چاره هم په لوبو پورې تړاو لري چې څېنې کلونه د اسیا په کچه لوبې وي او یا څېنې کلونه نه وي. د یادولو ده چې له تر ۲۰ سلنه بودیجه د افغانستان کرکټ بورډ د بازارموندنې له اړخه هم ترلاسه کېږي چې دغه اندازه هم د لوبو په مهالوېش پورې بشپړه تړلې وي نو باید وویل شي چې سږ ۲۰۲۰ کال به د افغانستان کرکټ بورډ له مالي ستونزې سره نه مخ کېږي او هڅه روانه ده، څو یوه اندازه بودیجه له سږ کال راتلونکي ۲۰۲۱ کال ته ولېږدول شي، څکه راتلونکی کال به یو څه بودیجې ته اړتیا وي، خو بیا هم ډېره هڅه روانه ده چې د کرکټ نړیوالې شورا سره د دغې اندازې د کمښت خبره وشي او افغانستان کرکټ بورډ ته د یوه بشپړ غړیتوب لرونکي هېواد په توگه لکه څرنگه چې نورو هېوادونو ته بودیجه ورکول کېږي؛ باید افغان کرکټ ته هم هماغه اندازه بودیجه ورکړل شي او دغه چاره د اداري حق هم دی. په پای کې باید یادونه وشي چې د اداري ټولې اړوند چارې د یوه باثبات او روڼ سیستم پر بنسټ مخ ته ځي، په اداره کې د لا ډېرې روڼتیا لپاره له پرمختللو سیستمونو گټه اخیستل کېږي، څکه د افغانستان کرکټ بورډ اداره په هر ډگر کې ځان د خپلو هېوادوالو پوښتنو ځواب ویونکی او مسوول بولي او په ټولو برخو کې ځواب ویلو ته ژمن او متعهد دی.

۱۹ افغان لوبغاړو د متحده عربي اماراتو په روزنیز کمپ کې ګډون وکړ

افغان ملي لوبډلې د جنوري میاشتې له ۱۲مې نېټې تر ۲۵مې نېټې پورې د متحده عربي اماراتو په دوبۍ ښار کې د مهارت لوړولو، تکړښت او فزیکي جوړښت یا فټنس سربېره په هغه تمریناتي او روزنیز کمپ کې ګډون وکړ چې پکې د ګرندي توپ اچوونکو پر وړاندې د افغان توپوهونکو د تخنیکي توپوهنې او چټکې توپ اچونې په موخه جوړ شوی و. دغه دوه اونیز تمریناتي او روزنیز کمپ چې د ملي لوبډلې ۱۹ لوبغاړو پکې ګډون درلود، د ملي لوبډلې د مشر روزونکي لانس کلوزنر تر مشرۍ لاندې ترسره شو چې د متحده عربي اماراتو د کرکټ په نړیواله اکاډمي (GCA) کې ډېر په زړه پورې روزنه ترلاسه کړه چې دغه کمپ د راتلونکو شل اوریزو نړیوالو لوبو د نړیوال جام لپاره چې د استرالیا په هېواد کې ترسره کېږي؛ یو ښه او مؤثره کمپ بللی شو.

د متحده عربي اماراتو د یاد تمریناتي او روزنیز کمپ په نوملړ کې اصغر افغان، رحمت شاه، حضرت الله ځاځي، رحمن الله ګربز، نوین الحق، سمیع الله شینواري، عثمان غني، نجیب تره کي، نجات مسعود، فرید ملک، درویش رسولي، میرویس اشرف، ګلبدین نایب، یمین احمدزي، نجیب الله ځدراڼ، کریم جنت، شاپور ځدراڼ، عظمت الله عمرزي او سلیم ساپي ګډون درلود.

د دغه تمریناتي کمپ لپاره ټول غوره شوي لوبغاړي د جنوري په ۲۵مه بیرته هېواد ته راستانه شول چې له یاد تمریناتي کمپ یې ډېر څه زده کړل او د مشر روزونکي په وینا، د ملي لوبډلې لپاره ورته نور تمریناتي کمپونه هم جوړ شي، ځکه راتلونکی د نړیوال جام لوبې راروانې دي او ورته کمپونه د دوی لپاره ډېر اړین او مهم دي.

دغه راز د ملي لوبډلې مشر روزونکی لانس کلوزنر هم له لوبغاړو سره د لومړي ځل لپاره افغانستان ته راغی او دلته یې د لوبغاړو لپاره تولې رامنځته شوې اسانتیاوې له نږدې ولیدلې. سربېره پر دې یې د افغانستان کرکټ بورډ له عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي او همدارنګه له اجراییه مشر ښاغلي لطف الله ستانکزي سره هم ناستې وکړې او د لوبغاړو د چمتووالي په برخه کې یې ورسره خپل پلانونه شریک کړل.

کلوزنر همدارنګه د رسنیو په حضور کې هم څرګندونې وکړې او په وینا یې د افغان لوبډلې لپاره ډېر ښه پلانونه لري چې باید دوی په راتلونکي نړیوال جام کې د چټکو توپ اچوونکو پر وړاندې بشپړ چمتووالی ولري او هیله من دی چې افغان لوبغاړي به په راتلونکي نړیوال جام کې ډېر ښه ځلیږي او بریاوې به راوړي.

نوموړي همدارنګه د اسیا جام سیالیو ته هم په اشارې سره وویل، د نړیوال جام سربېره د اسیا جام سیالۍ هم د لوبغاړو لپاره ډېرې اړینې دي، مطمین دی چې افغان لوبغاړي به په دغه برخه کې ډېرې بریاوې راوړي او خپل هېواد به ځلوي.

AFGHANISTAN
ZUHAIB
99

Even though Afghanistan dominated the game from the start, Flower also pointed out to the fact that the Afghans had a relatively easier transition having been sent to field first and, on the other hand, the South Africans were already under a bit pressure considering that they batted first getting the tournament's first action in front of their home crowd. As the Afghan spin attack stole the limelight, their batting also did not disappoint and Andy Flower echoed the fact. "The Afghan batsmen made the chase look easier than it really was. If they had gone about it in a tentative fashion, they could have got themselves in trouble. They were brilliant from the outset. "He continued, "They looked well balanced and their batsmen played in quite a compact and controlled manner." Said Flower.

"(Ibrahim) Zadran has played Test Cricket, so it was not a surprise to see him bat like that. But, Imran Mir really looked well balanced and in control as well. They looked in real control and were incredibly impressive "remarked Flower.

The former England National Coach also talked about the young British-Afghan off-spinner, Hamidullah Qadiri, who is part of England U19 squad in the U19 World Cup. Qadri turned many heads impressing with his performances in the England Lions' home series recently against Bangladesh and India last summer. After their comprehensive victory against South Africa, Afghanistan U19 is currently on top of Group-D and is scheduled to face UAE U19 and Canada U19 on 22nd and 24th January respectively.

Andy Flower Impressed by the quality of Afghan spinners in U19 World Cup



Former England Coach and Zimbabwean legend, Andy Flower was all praise for Afghan cricketers whose quality and caliber was on display in their thumping win against South Africa U19 in the opening match of ICC U19 World Cup in Potchefstroom.

For the ICC's Social media, Flower remarked that the Afghan cricket story is always an inspiring one and the Afghan future stars playing currently in the U19 team will have many opportunities abound for them in the coming year. "To see these players come out of those problems that they face in their country and to come through that and play not only with that passion and exuberance, but skill and understanding of the game are really impressive. " Flower said.

Flower said the Afghans put on a great display in all departments against South Africa and their potent spin attack, in particular, stole the show. "After their tremendous performance against England in the warm-up game, we always knew that the Afghan spin attack is going to be a problem for the opposition teams in this World Cup." Flower continued.

Afghan spinning duo of Shafiqullah Ghafari and Noor Ahmad took 8 wickets to dismantle the South African batting line-up after an opening burst by left-arm pacer Fazal Haq Farooqi set the tone for the match. Ghafari in particular, sealed the spotlight with a match-winning performance of 15/6, the seventh-best figures in the tournament's history, while Noor Ahmad took two crucial wickets.

Flower admired Ghafari's intelligent mix-up of deliveries that choked the runs and accounted for six South African batsmen. He said "It was a sensational piece of bowling from him (Ghafari). He was very skillful and knowledgeable as well as bowling the right balls at the right time making lots of use of his googly as the South Africans couldn't pick him. ". "Noor Ahmad, the left-arm spinner, is going to be a handful. If ever there is a situation when the chase is on and someone goes after him, he will be very difficult to pick as he has a dangerous googly that goes away from the right-handers. " Flower went on to say that this is not going to be the first time that the Afghan spinners dominate in this World Cup and predicted that they are going to cause lots of problems for other teams.

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Busi Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA Internat Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Educ in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articu in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, stu growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزیزی بانک
Azizi Bank

د عزيزي بانک ازي پې(AZI-PAY)، د بانکوالۍ په لوري نوی او ثابت گام